د افغانستان جمهوري رياست عالي مقام ته د سعودي مسافرو عرض پانه !

بناغليه ولسمشره!
له هر څه نه وړاندې د سعودي مسافرو له درد او فرياد ډک احترامات ومنئ، لکه څنګه چې تاسو خبر ياست افغان کډوال نه يواځې په سعودي عربستان کې بلکې په توله نړۍ کې له ډيرو ستونزو سره لاس او ګريوان دي دوی په هېواد کې د امن او د يوې مناسبې کاري زمينې د نشتوالي له امله د خپلو کورنيو د ښې او روښانې راتلوونکې لپاره له هېواد څخه لرې په غربت کې شپې او ورځې تيروي.
ولسمشره! سعودي مسافر له يوې خوا د مجبورۍ له امله په ډيرو قرضونو راغلي او له بلې خوا په سعودي عربستان کې د کار په وخت کې عربانو لخوا له سخت خوروlو سره مخ دي ډيرې وخت داسې هم پيښ شوي چې دوی هلته غريبي کړي د دوی مزد نه يواځې دا چې د عربانو له خوا ندی ورکړل شوی بلکې په خپله غريبي وهل تکول شوي هم دي او د مقاومت په پايله کې د ياد هېواد حکومت لخوا نيول شوي هم دي.
بناغليه ولسمشره!
د حکومتونو د ناسم بهرنۍ سياست په پايله کې مور اکثره افغانان دلته پر پاکستاني پاسپورتونو راغلي يو، په سعودي کې افغان سفارت او قونسلګريو څو څو خلي اعلان وکړ چې تاسې ټولو افغانانو ته په د هويت د تثبيت څخه وروسته افغاني پاسپورتونه او تذکرې توزيع کيږي، او پر خپلو پاسپورتونو به تاسو ته ويزې لګيږي او ګران هېواد ته به آزاد تګ را تګ کولی شی.
غواړم ستونزې به لنډ ډول داسې مطرح کړم:
1- شاوخوا پنځه کاله کيږي چې د سعودي جوازانو له خوا د افغانانو لپاره نقل معلومات(نقل مشروعيه) بند دي او هيڅ افغان ته اجازه نه ده ور کړل شوي چې د پاکستاني پاسپورټ څخه افغاني پاسپورټ ته نقل وکړي.
په داسې حال کې چې د روان کال د لړم (عقرب) په 29 مه په سعودي عربستان کې د افغان سفارت اعلان وکړ او د دروغو اعلاميه يې خپره کړه چې نقل معلومات خلاص دي.

2- تېر يو کال راهيسې په سعودي عرب رياض کې د افغانستان سفارت او جدې قونسلګرۍ څخه افغان مسافرو ته په خپل نوم تقريباً تر لسو زرو زيات کمپيټوري پاسپورتونه توزيع شوي چې اوس مهال سفارت دغه پاسپورټ اخيستونکو ته وايي چې ستاسو په پاسپورټ نقل نه کيږي بايد د دوهم خل لپاره مصرف وکړئ او د اقامې په نوم پاسپورټ تر لاسه کړئ خو مونږ درته پرې نقل وکړو. مور د اقامې په نوم هم پاسپورتونه جوړل کړل خو نتيجه صفر ده. اوس په سعودي کې هر افغان دری دری پاسپورتونه لري (ثبوت په ډول مې پاسپورتونه له همدې عريضې سره ضميمه درليږلي).
3- سفارت او قونسلګريو کې داسې کسان په دنده ګمارل شوي چې اکثره يې له کم سواد څخه برخمن دي او ډيټابيس او پاسپورتونو کې نومونه غلط ليکي. خينې وخت د رشوت لپاره نومونه غلط ليکل کيږي تر څو دوی ته د پيسو زمينه برابره شي.(له همدې عريضې سره مې ثبوت هم ضميمه کړی).
4- سفارت او قونسلګريو(رياض، جده او طايف) ته مو داسې کسان راليږلي چې زمور په ژبه او کلتور نه پوهيږي ، له زور څخه کار اخلي محلي کارمندان تهديږي او وهل او تکول کيږي بېه مثال يې د جدې قونسل دی چې پر بدمعاشي يې فيسبوک ډک دی.
5- مور افغانان ټول يو هيڅوک له هيڅا لور ندی ، اما ولسمشره لکه څرنګه چې تاسې خبر ياست په سعودي عربستان کې 95٪ افغان کډوال پښتانه دي ، هيڅ فورمه ، خبرتيا ، اعلاميه ، قانون او ... به په پښتو ژبه ونه وينئ دوی قصدا تعصباتو ته لمن وهي او ډيرې وخت دا پوښتنه مطرح کوي « چرا فارسی نميفهمي ، برو پاکستاني».(له همدې عريضې سره مې ثبوت هم ضميمه کړئ).

<u>زمور وړاندیزونه</u>:
1- مور ټول شکر الحمد الله هر يو افغان دری دری او دوه دوه پاسپورتونه لرو ، تاسو لطفا د سعودي حکومت سره په تفاهم کې نقل معلومات خلاص کړئ تر څو هغه افغانان چې د کلنو راهيسې دلته د بندیانو په خير ژوند تيروي خپل هېواد ته بيرته ستانه شي.